(c) ketabton.com: The Digital Library

داسانو پښې څوانچه په ښتواوچکړکي ښخېدلې . پلي کسان خومجبوروو په احتياط تگ وکړي . اوس دکابل شاوخوا اساسي سړکونه په ښتوفرش سوي دي اولکه پخواچي وو ، اوس داس سپارلي اوپلي تگ پکښې په ښتوکي ختل نه دي .

خلك چي په مخه راتلل خيرن پيرن ښکارېدل . ان د لوړو رتبوخلك ، چي پراسانوپه سپاره وواوپنخه شپږنوکران به يې پربغل ورسره روان وو ، هم داسي به ايسېدل لکه تازه ، چي يې مخ پرېولی اوڅټ وغاړه يې په پرېولوکي خټي هېرسوي وي. داسي تروتازه خلك بيخي نه ليدل کېدل چي په منظمه توگه دي غسل کوي .زه وروسته پوه سوم چي ان دلوړي طبقې خلك لاپه اوونۍ کي يووارلمبېږي اونورخوپه څومياشتوکي يووار. ښايي همدادليل به و،چي ددوی غاړه اوڅټ ناپرېولي ښکارېدل .د خلکو جامې هم يوځه انگرېزي اويوځه افغاني وې. اوپه اوونۍ کي يوواردپاك کميس اغوستلوعادت ددوی پر خيرنو څېرو يو سرباری دئ. په داسي حال کي چي سرترنوکه خان کيسه کول(موبنل ) به دوی ښه وايسوي.

اميرپه بوستان سرای کي و(۱) . دايوه کوچنۍ ماڼۍ وه چي تر باغچو دباندي جوړه سوې اوپرشاوخوايې دارگ مستحکمه ماڼۍ راتاوسوې وه . څنگ ته يې دملکي سلطاني ماڼۍ وه چي گلستان سرای (۲) نومېدله . بوستان اوگلستان دواړه دباغ معناورکوي اودپخواني "ورم څای" او"وروستنی" "گلځای" ژباړه ده . کابل بايد پخپله په بل عبارت "بوستان" وای اوکه څوك يوځل دهغه په بازاروکي تېرسي داخبره ورته څرگندېدلای سي.

دماڼۍ دروازې ته زمااوزمادترجمان له رسېدوسره سم، د ساتونکو مشر (کپتان ) مورږدننه دربارته رهنمايي کړو . مور. هورې تم سولواواميرته دوظيفه لرونکي افسرپه لاس زمور د رسېدلو خبر ورکړه سو.داميرتراجازې وروسته يې دده حضورته زمالاربنوونه وکړه .انتظارخانې ته په رسېدلوسره، مااميرپه هغه اورږده څوکۍ کي ناست وليدچي ده دکټ کارهم ترې اخيست. ده خپې انگرېزي جامې اغوستي وې اوپرسريې وربښمينه افغاني خولی(Fez)(۳) وه ، چي پرپوه څنډه يې دالماسوشاهي ستوري ټومبلی و. امير، چي له اوږدې مودې راهيسي

